د امیرِ اهلِسُنّت حضرت علّامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ
د مختلفو فرامینو مجموعه

# د امیرِ اهلِسُنت 150 ارشادات

(قسط:03)

پښتو




پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیرِ اهلِسُنَّت 150 ارشادات

**دُعائے خلیفۂ امیرِ اهلِسُنَّت:** یا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله ”د امیرِ اهلِسُنَّت 150 ارشادات“ اولولي یا ئې واوري هغه د امیر اهلِسُنَّت په برکت د نیکئ په لار روان کړې او د دین او دنیا ډیر برکتونه ورعطا کړې. اٰمین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”اِذَا نَسِیْتُمْ شَیْئًا فَصَلُّوْا عَلَیَّ تَذْكُرُوْهُ اِنْ شَآءَ اللّٰه، یعنې چې ستاسو نه څه څیز هیر شي نو په ما باندې درودِ پاک لولئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! هغه څیز به تاسو ته درياد شي.“ (القول البديع، ص: 427)

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بزرګانو د ارشاداتو اهمیت

حضرت لقمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خپل ځوئ ته نصیحت کولو کښې اوفرمائیل: د علماء سره لازمي طور کښېنه او د حکمت والؤ کلام اوره ځکه چې **الله** پاک د حکمت په نُور سره مړ زړه داسې راژوندے کوي لکه څنګه چې مړه زمکه د باران د څاڅکو سره [راژوندئ کیږي].
(معجم کبیر، 199/8، حدیث: 7810)

یاد ساتئ د علم او حکمت نه ډکو خبرو سره فکر او نظر هُم روښانه کیږي او د علمِ دین زده کولو ثواب هم په لاس راځي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم د اسلافو (یعنې د تیرو بزرګانو) په طریقه د عمل کولو سره په ساده انداز کښې د قرآن او حدیث په رڼا کښې د شرعي پوښتنو د جوابونو ارشاد فرمائیلو سره سره بعضې وخت طِبّي معلومات هم ورکوي، ګڼ شمیر مشکلات حل کوي، د مختلفو علمي مدني ګلونو په ذریعه دا نور هم مُنفرِد جوړوي او د لیدونکو او اوریدونکو په زړونو کښې د خوفِ خُدا او عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمعې هُم روښانه کوي. د هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مجلس د وعظ او نصیحت خزانه او د بے لارې شوو خلقو د پاره د هدایت ذریعه ده. راځئ! په مختلفو موضوعاتو باندې د هغوئي ارشادات اوګورئ:

## د امیرِ اهلِسُنَّت 150 ارشادات

1. اسلام د امن او راحت پیغام ورکوي. (17 شوال 1435 بمطابق 14 اګست 2014)
2. چې کوم کار کول وي نو (هغه به) سنجیده اخستل وي، انسان چې په سنجیدګئ سره څه کار کوي نو منزل بیاموي. (20 شوال 1435 بمطابق 16 اګست 2014)
3. په حسبِ ضرورت روزئ باندې قَناعَت [صبر کول] زده کړئ. (4 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 30 اګست 2014)
4. د فضولو خبرو نه ځان څکه هُم ساتئ چې په فضولو خبرو کولو کولو کښې چرته د ګناهونو نه ډکو خبرو کښې اخته نه شئ. (4 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 30 اګست 2014)
5. په کوم مُرید کښې چې دیني صفات خومره زیات وي، نو پیر به د خپل هُغه مُرید سره هغه همره زیات محبت کوي. (18 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 13 ستمبر 2014)
6. مور و پلار دې خپل اولاد ته دا نه ښکاره کوي چې مونږ د فلانکي ځوئ یا لور سره زیات محبت کوو ګنې نور به په احساس کمترئ کښې اخته شي او دا به د هغوئي د پاره د هلاکت (یعنې د نقصان سبب) وي. (18 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 13 ستمبر 2014)

7. په سوشل میډیا باندې په جوړ کړے شوو اکاونټس باندې خپل تصویران لګول زما خوښ نه دي، د خپلو تصویرونو ختمولو په ذریعه د حُبِ جاه د ختمولو کوشش اوکړئ.
(18 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 13 ستمبر 2014)

8. په نیکئ کولو کښې چې شیطان څومره وسوسے دراچوي، هغه همره زیات همت سره نیکي کول پکار دي. (18 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 13 ستمبر 2014)

9. ماشومانو ته د څناورو سره د ښه سلوک ذهن ورکول پکار دي.
(30 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 25 ستمبر 2014)

10. په خپلو نیکو اعمالو باندې مطمئین کیدل نه دي پکار بلکه د **اللّٰه** پاک د پټ تدبیر نه ویریدل پکار دي. (30 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 25 ستمبر 2014)

11. د پیر د توجه حاصلولو د پاره د پیر اطاعت کول پکار دي.
(30 ذوالقعدة الحرام 1435ھ. 25 ستمبر 2014)

12. کتابونه تصنیف کول آسان کار نه دے څوک چې د دې اهل وي صرف هغه له دا کار کول پکار دي. (یکم ذوالحجة الحرام 1435ھ. 26 ستمبر 2014)

13. د ښه دوست پیژندلو د پاره د هغه سره سفر اوکړئ یا ورسره څه معامله مثلاً اخستل خرڅول وغیره اوکړئ. (یکم ذوالحجة الحرام 1435ھ. 26 ستمبر 2014)

14. تر څو چې مونږ "الفاظ" نه وي وئیلي زمونږه دي، کله چې [د خُلې نه] اووتل نو د نورو شول، هغوئي چې پرې څه غواړي پرې کوي به ئې. (3 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 28 ستمبر 2014)

15. صحابۀ کرامو به خپلو بچو ته د بهادرئ تربیت ورکولو. پکار ده چې زمونږه بچي د ازمرو په شان بهادران وي. (4 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 29 ستمبر 2014)

16. ټول په شریکه د ملک په ودانئ او جُمات ډک کړئ تحریک کښې زمونږ ملاتړ اوکړئ، که زمونږه بچے بچے لمونځ ګزاره شو نو ملک به هم خوشحاله شي.
(5 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 30 ستمبر 2014)

17. په سُنَّت کښې عظمت دے. (10 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 15 اکتوبر 2014)

18. د معاشرے په غلطو رسمونو کښې شاملیدل مړانه نه ده بلکه سرے هغه دے کوم چې معاشره په ځان پسې روانه کړي. (11 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 16 اکتوبر 2014)

19. کفایت شعاري اختیارول زده کړئ او که چرې د یوې ورځې خوراک پاتې شي نو د غورځولو په ځائے ئې په بَله ورځ خورئ. (16 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 11 اکتوبر 2014)

20. د بزرګانو سره نسبت لرونکے هر څیز "تبرُّک" دے. (16 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 11 اکتوبر 2014)

21. د مور پلار نه د خدمت اخستو په ځائے د هغوئي خدمت کوئ.
(16 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 11 اکتوبر 2014)

22. په معافئ غوښتلو د انسان عزّت کمیږي نه بلکه [عزّت ئې] زیاتیږي.
(23 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 18 اکتوبر 2014)

23. د فضول [کار] نه ځان ساتئ د پاره د دې چې په ګناه کښې اخته نه شئ.
(23 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 18 اکتوبر 2014)

24. په چا "منل" زمونږه کار نه دے بلکه زمونږ کار "پوهه کول" دي.
(23 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 18 اکتوبر 2014)

25. په خپلو نیکو باندې اعتماد مه کوئ بلکه د اللہ په رحمت نظر ساتئ.
(23 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 18 اکتوبر 2014)

26. په شریکه خوراک کولو کښې داسې انداز مه اختیاروئ چې نورو له کرَکه ورشي، د غوره نه غوره انداز پکار دے. (24 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 19 اکتوبر 2014)

27. بنده د خبرو نه کم او د صحبت نه زیات رنګ اخلي. (25 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 20 اکتوبر 2014)

28. مخلص کَس که په زرو پردو کښې پټ هم څه نیک کار اوکړي، اللہ پاک هغه په خلقو کښې مشهوروي. (25 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 20 اکتوبر 2014)

29. د خوفِ خُدا یوه نښه دا ده چې بنده د اللہ پاک د نافرمانو نه ځان ساتي.
(25 ذوالحجة الحرام 1435ھ. 20 اکتوبر 2014)

30. ګرم جوشۍ او با اخلاقه طریقه باندې ملاویدونکي ګس سره خلق محبت کوي. (25ذوالحجة الحرام 1435ھ. 20اکتوبر 2014)

31. که غټ اختر وي او که وړوکے، مونږ له په ویره ویره او کم خوراک پکار دے [چې چرې صحت ته مو نقصان اُونه رسي]. (یکم محرم الحرام 1436ھ. 25اکتوبر 2014)

32. زما تجربه ده چې په دې دَور کښې زیاتره خلقو له صحیح لمونځ کول نه ورځي، نه ئې مخارج صحیح دي او نه ارکان صحیح ادا کوي. (یکم محرم الحرام 1436ھ. 25اکتوبر 2014)

33. زمونږ د هر کار مقصد د **الله** پاک رضا پکار ده. (یکم محرم الحرام 1436ھ. 25اکتوبر 2014)

34. زمونږ د ژوند مقصد الله او رسول راضي کول دی، خو مونږه د خلقو په رضا کولو کښې خوار (او ذلیله) کیږو. (یکم محرم الحرام 1436ھ. 25اکتوبر 2014)

35. مالکان دې په خپلو ګاډو کښې دا لیکلي اولګوي: په دې ګاډي کښې سندرې سازونه او فلمونه وغیره نه چلیږي، سورلۍ دې اصرار نه کوي [یعني د دې د چلولو ضِد دې نه کوي]. (3محرم الحرام 1436ھ. 27اکتوبر 2014)

36. د حلال رزق حاصلولو د پاره هغه کاروبار کوئ، چې هغې سره د دین خدمت هم کولے شئ. (3محرم الحرام 1436ھ. 27اکتوبر 2014)

37. د بدو نه د بچ کیدو شعور د بدو نه د بچ کیدو ذریعه ده. (4محرم الحرام 1436ھ. 28اکتوبر 2014)

38. امامان د معاشرے معززه خلق دے، د دوئي احترام کوئ. د دوئي خدمت کوئ خو د مصافحے [لاس میلاوهلو] په وخت ورله رقم مه ورکوئ بلکه په لفافه کښې ئې اچوئ او یواځې ځائے کښې ئې ورکوئ. (5محرم الحرام 1436ھ. 29اکتوبر 2014)

39. د جُمات خادم د معاشرے د ټولو نه مظلومه ګس دے، د ده سره هم مالي تعاون کوئ. (5محرم الحرام 1436ھ. 29اکتوبر 2014)

40. د دکانونو وغیره نومونه په مبارکو نومونو اینښودل نه دي پکار ځکه چې د هغي بے ادبي کیدے شي مثلاً غوثیه ټیلرز وغیره بلکه دنیائي نومونه اینښودل پکار دي.

(5محرم الحرام 1436ھ .29اکتوبر 2014)

41. افسوس! نن سبا د غفلت دور دے د ویرې څیزونه مثلاً په بریښنا او تندر وغیره کښې خلق د توبه او استغفار په ځائے [د مستئ نه] ټوپونه وهي او خوندونه ترینه اخلي.

(5محرم الحرام 1436ھ .29اکتوبر 2014 خصوصي)

42. د ګناه نه بچ کیدو د پاره به د ګناه اسباب ختمول وي.

(6محرم الحرام 1436ھ .30اکتوبر 2014 خصوصي)

43. د **الله** پاک نافرماني کول د مسلمان نه، د شیطان کار دے. (7محرم الحرام 1436ھ .31اکتوبر 2014)

44. مسلسل د نیکئ دعوت ورکوئ شرم محسوسیدل او ویره به مو ختمه شي.

(7محرم الحرام 1436ھ .31اکتوبر 2014)

45. د کومې خبرې نه چې د ګناه دروازه برسیره کیږي د هغې نه ډډه کوئ.

(8محرم الحرام 1436ھ .یکم نومبر 2014)

46. ادیرې ته ځئ چې د دې نه عبرت حاصلیږي. (8محرم الحرام 1436ھ .یکم نومبر 2014)

47. د کوم (علاج کوونکي) د علاج سره چې فائده نه کیږي نو هغه ته بدې ردې مه وائے، شفا ورکوونکے خو **الله** کریم دے. (9محرم الحرام 1436ھ .2نومبر 2014)

48. د کوم څیز نسبت چې د حرمین طیبین (مکے او مدینے) او د بزرګانو سره وي، د شریعت په دائره کښې دننه د هغې د پاره د غوره نه غوره الفاظ استعمالوئ.

(9محرم الحرام 1436ھ .2نومبر 2014)

49. د هرې هغې خبرې او حرکت نه ځان ساتئ په کومه باندې چې د چا مسلمان زړه ته خفګان رسیدے شي. (10محرم الحرام 1436ھ .3نومبر 2014)

50. هر یو کَس له د عالم جوړیدو کوشش کول پکار دے، عالم جوړیدل ډیر لوئے سعادت دے. (18ربیع الآخر 1436ھ .7فروري 2015)

51. د استاذ او د کتابونو ډیر احترام کوئ، اِنْ شَآءَ الله د علم روح به درحاصل شي.

(11محرم الحرام 1436ھ .4نومبر 2014)

52. که چرې د جُمات امام، کرم جوشئ سره ملاویدونکے او خوش اخلاقه وي نو هغه د دين ډير خدمت کولے شي. د جُمات داسې امام د محلے بے تاجه بادشاه وي.

(11 محرم الحرام 1436ھ. 4 نومبر 2014)

53. يو مسلمان د بَل مسلمان نه بدګمانه کول نه دي پکار.

(11 محرم الحرام 1436ھ. 4 نومبر 2014 خصوصي)

54. که د طالب علمانو اخلاق ښه شي او په دوئي کښې په صحيح معنو کښې سنجيدګي راشي نو دوئي د دين ډير خدمت کولے شي. (15 محرم الحرام 1436ھ. 8 نومبر 2014 خصوصي)

55. ديني کتابونه ارزان خرخول پکار دي د پاره د دې چې زيات نه زيات خلق ترينه فائده واخلي، دا د ديني مُرَوَّت (يعني اخلاقو) تقاضه ده. (16 محرم الحرام 1436ھ. 9 نومبر 2014 خصوصي)

56. ګيره او عمامه [يعني پټکے] داسې نعمتونه دي کوم چې په انسان کښې موجودې بدئ لرې کوي. (21 محرم الحرام 1436ھ. 15 نومبر 2014 خصوصي)

57. په موټر سائيکل باندې درې ګسان کښيناستل قانوني او اخلاقي جرم او د ژوند د پاره خطره ده. (21 محرم الحرام 1436ھ. 15 نومبر 2014 خصوصي)

58. [که د مور و پلار د علاج خرچه نه لرئ نو] پخپله کمه خورئ خو د مور و پلار علاج کوئ.

(21 محرم الحرام 1436ھ. 15 نومبر 2014 خصوصي)

59. څوک چې نيکي کول غواړي، د هغوئي د پاره سنجيده کيدل ضروري دي، صرف "خواهش کول" کافي نه دي. (21 محرم الحرام 1436ھ. 15 نومبر 2014 خصوصي)

60. کله چې څوک د يو چا نه د طبيعت پوښتنه اوکړي نو هغه ته په جواب کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن وئيل پکار دي، بچو ته هم دا زده کړئ. (7 صفر المظفر 1436ھ. 29 نومبر 2014)

61. په ما کښې د ماشوم والي نه د جَمعې سره د لمونځ کولو جذبه ده.

(7 صفر المظفر 1436ھ. 29 نومبر 2014)

62. په خاموشه اوسيدو کښې د دُنيا او د آخِرت فائدے دي. (7 صفر المظفر 1436ھ. 29 نومبر 2014)

**63**. مدني چينل د ښو ښو نيتونو سره کتل عبادت دے، ځکه چې دا خالص ديني چينل دے.
(7صفر المظفر 1436ھ. 29نومبر 2014)

**64**. د حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللہُ عَنْھَا شان د ستورو او د خاورو د ذرو نه [هُم] زيات دے.
(16صفر المظفر 1436ھ. 6دسمبر 2014)

**65**. د تنګدستئ په اسبابو کښې دا هم دي چې مور پلار په نوم سره راوبللے شي.
(16صفر المظفر 1436ھ. 6دسمبر 2014)

**66**. د مخاطب کَس سره د هغه د مقام او مرتبے مطابق په ښو الفاظو سره خبره کوئ.
(16صفر المظفر 1436ھ. 6دسمبر نومبر 2014)

**67**. په اصل کښې نيک هغه دے څوک چې د الله پاک په نزد هم نيک وي، صرف شهرت کافي نه دے. (21صفر المظفر 1436ھ. 13 دسمبر 2014)

**68**. دعوتِ اسلامي د "عمل" تحريک دے، رسمي نه دے. (21صفر المظفر 1436ھ. 13 دسمبر 2014)

**69**. په شهرت کښې هم امتحان دے.(21صفر المظفر 1436ھ. 13 دسمبر 2014)

**70**. هر چا ته د هغه د نفسياتو مطابق د نيکئ دعوت ورکول پکار دي.
(28صفر المظفر 1436ھ. 20دسمبر 2014)

**71**. کاش! چې داسې اوشي چې مونږه د خبرې کولو نو مخکښې لږ شان اودريږو، سوچ اوکړو، بيا خبرې شروع کړو. (28صفر المظفر 1436ھ. 20دسمبر 2014)

**72**. يو مسلمان له هُم پيغور ورکول نه دي پکار. (28صفر المظفر 1436ھ. 20دسمبر نومبر 2014)

**73**. حافظ له ټول کال د قرآنِ مجيد تلاوت کول پکار دي، د پاره د دې چې منزل ورته پوخ ياد وي. (28صفر المظفر 1436ھ. 20دسمبر 2014)

**74**. حَتّي الامکان په داسې فلائټ يا بس کښې سفر کوئ، چې پکښې د يو لمونځ وخت هم نه راځي. (28صفر المظفر 1436ھ. 20دسمبر 2014)

**75**. خپل بچي ازمري جوړ کړئ، د دعوتِ اسلامي رسالے پرې لولئ، د پيريانو او ديوانو د قيصو نه ئې اوساتئ. (2ربيع الاول 1436ھ. 24 دسمبر 2014)

76. خلق عام طور وائي چې الله پاک داسې فرمائيلي دي، په قرآن کښې داسې دي. دا ډېر غلط انداز دے، تر څو چې سل فيصده يقين يا د چا مفتي يا مستند عالم نه تصديق اونکړئ نو د خپله ځانه داسې مه وائے. (2ربيع الاول1436ھ. 24دسمبر 2014)

77. مؤمن نرم طبيعت والا او نرمو خبرو والا وي. (4ربيع الاول1436ھ. 26دسمبر 2014)

78. د نرم مزاجه ګس سره خلق محبت کوي. (4ربيع الاول1436ھ. 26دسمبر 2014)

79. د باطن صفا کولو او تازه کولو د پاره رښتوني توبه کړئ. (5ربيع الاول1436ھ. 27دسمبر 2014)

80. قصداً لـمونځ پريښبودلو سره زړه خيرنيږي. (5ربيع الاول1436ھ. 27دسمبر 2014)

81. مسلمانان چې چرته هم وي، د اِسلام د اُصولو پابند دي. (5ربيع الاول1436ھ. 27دسمبر 2014)

82. د ميلاد په جلوس کښې نياز د خلقو اړخ ته د ورويشتلو په ځائے د هغوئي په لاسونو کښې ورکوئ. (5ربيع الاول1436ھ. 27دسمبر 2014)

83. د ميلاد په جلوس کښې داسې په درناوي او د ادب په انداز کښې شرکت کوئ چې غير مسلمه ئې هم اوويني نو چې مسلمان شي. (5ربيع الاول1436ھ. 27دسمبر 2014)

84. د قرآنِ پاک اصل حافظ هُغه دے چې د قرآن احکام اومني او عمل پرې اوکړي. (6ربيع الاول1436ھ. 28دسمبر 2014)

85. د موبائل فون نقصانونه د هغې د فائدو نه زيات دي. (8ربيع الاول1436ھ. 30دسمبر 2014)

86. هره ورځ احتساب کول پکار دي چې د ژوند يوه قيمتي ورځ تيره شوه. (9ربيع الاول1436ھ. 31دسمبر 2014)

87. د دنيا د تاريخ د لوستلو نه د دې خبرې پته لګي چې "انقلاب" هميشه يو کس راولي، باقي خلق د هغه حمائتيان وي. (10ربيع الاول1436ھ. يکم جنوري 2014)

88. چراغان [يعني په جماتونو، مزاراتو او کورونو وغيره رڼاګاني لګول] او د بزرګانِ دين نياز، د سُنيانو نښه ده. (10ربيع الاول1436ھ. يکم جنوري 2015)

89. څه چې زمونږ په لاس کښې دي، هغه خو رانه څوک په زور اخستے شي، خو څه چې په

تقدير كښې دي هغه رانه څوك هم نشي اخستے . (11ربيع الاول1436ھ.2جنوري2015)

**90**. د جُماتونو آبادولو طريقه دا ده چې كله هم د لـمونځ كولو د پاره ځئ، په چا نوي (كس) باندې انفرادي كوشش كوئ او د ځان سره ئې بوځئ. په جُمات كښې د درسِ فيضانِ سُنت تركيب جوړ كړئ، په جُمات كښې زړه اولګوئ هلته كښينئ او ذكر و اذكار كوئ.
(11ربيع الاول1436ھ.2جنوري2015)

**91**. زړه د سمندر په شان فراخه پكار دے، د چا زړه چې بيا بيا [يعنې په هره خبره] خفه كيږي هغه د دين خو څه چې د دنيا كار هم نه شي كولے، د هغه دوستان هم ډير كم وي.
(11ربيع الاول1436ھ.2جنوري2015)

**92**.كه كاميابيدل غواړئ نو په زړونو كښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمعې روښانه كړئ. (11ربيع الاول1436ھ.2جنوري2015)

**93**.د هُغه ډاكټر نه علاج كوئ كوم چې امانت دار وي او د **الله** ويره لري.
(11ربيع الاول1436ھ.2جنوري2015)

**94**.د نيكو اعمالو حقيقي عامل، په زړګاؤ لكونو كښې پيژندلے كيږي.
(12ربيع الاول1436ھ.3جنوري2015)

**95**.په دِين باندې د عمل كولو سره هُغه عزت ميلاويږي چې وزيران بلكه صدر به پرې هم رشك كوي. (12ربيع الاول1436ھ.3جنوري2015)

**96**.بعضې وخت د چا نيك ګس سره د كښيناستلو سره تقدير بدل شي.
(17ربيع الاول1436ھ.8جنوري2015)

**97**. مدني مذاكره د معلوماتو خزانه ده. (17ربيع الاول1436ھ.8جنوري2015)

**98**. د علمِ دين حاصلول ډير اهم عبادت دے. (17ربيع الاول1436ھ.8جنوري2015)

**99**.مدني ماشومو [يعنې وړو جينكو] ته هم كله نا كله مدني برقع [د ټوپئ والا بُرقع] اچول پكار ده د پاره د دې چې د لوئيدو نه مخكښې ئې د پردے ذهن جوړ شي.
(19ربيع الاول1436ھ.10جنوري2015)

**100**. د چا مسلمان په باره کښې داسې وئیل نه دي پکار چې "هلاک شو" بلکه "وفات شو" وئیل بهتر دي. (19ربیع الاول1436ھ. 10 جنوري2015)

**101**. که چرې امام او مؤذِن خلقو سره په کرم جوشۍ او اخلاقو سره میلاویدونکي وي، نو خلق به د دوئي نه کير چاپیره وي. (19ربیع الاول1436ھ. 10 جنوري2015)

**102**. امام او مؤذِن له په خپله غریبۍ کښې لوږه تیرول پکار دہ، خو چا مالداره ته لاس نیول نه دي پکار. (19ربیع الاول1436ھ. 10 جنوري2015)

**103**. په خپل زړه کښې د عشقِ رسول شمع روښانه کړئ، په دُنیا او آخرت کښې به کامیاب شئ. (2ربیع الآخر1436ھ. 22 جنوري2015)

**104**. د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه خبره زمونږ د پاره حرفِ آخر دے. (3ربیع الآخر1436ھ. 23 جنوري2015)

**105**. چې [بنده] د ګناهونو د عذابونو سره واقفیت لري نو د هغې نه د بچ کیدو ذهن به ئې هُم جوړیږي. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

**106**. بنده د داسې مهربانه رَبّ نافرماني څنګه اوکړي؟ کوم چې [هغه ته] بے شمیره نعمتونه ورکوي. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

**107**. عام طور د رټونکي سیټھ سره، نوکر وفا نه کوي. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

**108**. په خوږو خبرو کښې داسې جادو دے چې سرکشه (نافرمانه) فرمانبرداره شي. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

**109**. په ترخو خبرو کښې داسې زهر دي چې اولاد هُم نافرمانه شي. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

**110**. د شرعي اجازت نه بغیر، زړه ازاروونکي انداز کښې بد بد کتل هم ګناه دہ. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

**111**. چې جذبه رښتوني وي نو کامیابي نصیب کیږي. (4ربیع الآخر1436ھ. 24 جنوري2015)

112. کله چې د یو کار پوښتنه نه کیږي نو هغه اول سست او بیا ختم شي.
(4 ربیع الآخر 1436ھ. 24 جنوري 2015 خصوصي)

113. که تاسو د چا د اصلاح کوشش اوکړو او هغه د سنتو عامل جوړ شو نو ګویا تاسو چې د هغه د راتلونکو نسلونو اصلاح اوکړه. (4 ربیع الآخر 1436ھ. 24 جنوري 2015 خصوصي)

114. د مدني چینل د نعمت نه پوره فائده واخلئ او د دې د کتلو دعوت ورکوئ.
(4 ربیع الآخر 1436ھ. 24 جنوري 2015 خصوصي)

115. د عُرس مناوهلو رُوح دا دے چې د چا عُرس کوئ، د هغوئي په سیرت باندې عمل هُم اوکړئ. (5 ربیع الآخر 1436ھ. 25 جنوري 2015 خصوصي)

116. څنګه چې د خوراک حرص کیږي، د دې نه زیات د لمونځونو او نیکو حرص اوکړئ.
(5 ربیع الآخر 1436ھ. 25 جنوري 2015 خصوصي)

117. د شروع نه ماشومان د ډیر خوراک ښباک او ښو ښو جامو نه بے رغبته کول پکار دي.
(5 ربیع الآخر 1436ھ. 25 جنوري 2015 خصوصي)

118. که نیت ښه وي نو د چا په دیني نقصان باندې خفه کیدل د ثواب کار دے.
(5 ربیع الآخر 1436ھ. 25 جنوري 2015 خصوصي)

119. په واده کښې هم د شریعت د احکامو پابندي کوئ. په غیر شرعي رسمونو کښې د خپلوانو خبره منل نه دي پکار، خپلوان مو نه جنت ته بوتلے شي او نه مو دوزخ ته غورځولے شي. (5 ربیع الآخر 1436ھ. 25 جنوري 2015 خصوصي)

120. مفتي ډیر عقل مند وي. (6 ربیع الآخر 1436ھ. 26 جنوري 2015 خصوصي)

121. په نوم اخستو سره رابلل سُنت دي. (6 ربیع الآخر 1436ھ. 25 جنوري 2015 خصوصي) صالحینو ته نزدې خخیدل (ډیره) د سعادت خبره ده. (7 ربیع الآخر 1436ھ. 27 جنوري 2015)

122. هغه ډیر بد قسمته دے، په چا باندې چې د اصلاح کوونکو دروازه بنده وي.
(7 ربیع الآخر 1436ھ. 27 جنوري 2015 خصوصي)

123. دا ذهن جوړ کړئ چې که ما څوک اُووهي یا دیکے راکړي خو زه به د دعوتِ اسلامي

ديني ماحول نه پريږدم، بلکه په دعوتِ اسلامي پورې داسې اُونښلئ، چې څوک مو په ټوټې ټوټې کولو هم جُدا نه کړے شي. (7ربيع الآخر 1436هـ. 27جنوري 2015 خصوصي)

**124**. که د بزرګانِ دين فيض حاصلول غواړئ نو د هغوئي په سيرت باندې عمل کوئ. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! دومره فيض به درته ميلاو شي چې په نورو به ئې تقسيموئ. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**125**. که څوک هر څومره بد انداز کښې پوښتنه اوکړي، مونږ له په صبر او تحمل سره په اَحسَن [ښه] انداز کښې جواب ورکول پکار دي. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**126**. په يوه ګناه کښې هم سکون نه ميلاويږي. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**127**. په حرام مال کښې برکت نه وي، په څه نا څه طريقه د لاس نه ووځي. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**128**. حُبِ جاه (د عزت او شهرت محبت) بده بلا ده. په دې کښې د دنيا او آخرت تباهي ده. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**129**. مونږ ته د **اللّٰه** پاک د پاره ژوندي اوسيدل او هم د هغه د پاره مره کيدل دي. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**130**. ظلم، د آخرت تياره ده. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**131**. که مونږه کَمَا حقه د فضولو خبرو نه په بچ کيدو کښې کامياب شو، نو دا د **اللّٰه** پاک (لوئے) نعمت دے. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**132**. د يوې ورځې ماشوم سره هم په غصه کښې خبرې نه دي کول پکار. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**133**. څوک چې ستاسو سره "په ته، ته" وئيلو سره خبرې کوي، تاسو د هغه سره هم په تاسو او په جي جناب سره خبرې کوئ. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

**134**. که چرې څوک په صحيح معنو کښې په مدني انعاماتو [يعني په نيک اعمال] عمل اوکړي نو هغه به نيک او پرهيزګاره جوړ شي. (8ربيع الآخر 1436هـ. 28جنوري 2015 خصوصي)

135. د یوولسمې والا آقا (غوثِ اعظم) لـمن اونیسي، نو هغوئي به مو د دولسمې والا آقا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم) ته اورسي. (10ربیع الآخر 1436ھ. 30جنوري 2015)

136. د آخرت په لحاظ سره قبر وړومبنے منزل دے. (10ربیع الآخر 1436ھ. 30جنوري 2015)

137. ګناه ایمان اخستونکې کیدے شي او (دې سره) د ایمان ضائع کیدو خطره زیاتیږي. (10ربیع الآخر 1436ھ. 30جنوري 2015)

138. د ګناهونو بیماري، د بدن د بیمارو نه زیاته اندیښمنه ده. (16ربیع الآخر 1436ھ. 5فروري 2015)

139. د چا ځوئ چې بے عمله وي، هغه ته د هغه د ځوئ د بے عملئ پیغور ورکول زړه ازارول دي. (16ربیع الآخر 1436ھ. 5فروري 2015 خصوصي)

140. د تپولو نه لوئے مصیبت کفر او شرک دے. (16ربیع الآخر 1436ھ. 5فروري 2015 خصوصي)

141. ډاکټران او دکانداران دې د لـمونځ په وخت په خپل دکان وغیره باندې یو بورډ رازوړندوي او لـمونځ دې د جمعې سره کوي. چې په هغه بورډ واضحه لیکلي شوي وي "د لـمونځ وقفه" او د هغې نه ښکته ترینه دا لیکلي وي "زما د دعوتِ اسلامي سره مینه ده". (16ربیع الآخر 1436ھ. 5فروري 2015 خصوصي)

142. د عشقِ رسول خوند لازوال دولت دے. (16ربیع الآخر 1436ھ. 5فروري 2015 خصوصي)

143. د تهجد کوونکي په مخ باندې نُور وي. (16ربیع الآخر 1436ھ. 5فروري 2015 خصوصي)

144. د جمات ښکلا په رڼاګانو نه بلکه په لـمونځ ګُزارو وي. (17ربیع الآخر 1436ھ. 6فروري 2015 خصوصي)

145. که ټول خلق په کفایت شعارئ سره بجلي استعمالوي نو په ټول ملک کښې په لوډشیډنګ کښې کمے راتلے شي. (17ربیع الآخر 1436ھ. 6فروري 2015 خصوصي)

146. څوک چې د الله پاک په بارګاه کښې ښکته کیږي، اوچت مقام حاصلوي. (17ربیع الآخر 1436ھ. 6فروري 2015 خصوصي)

147. د سحر خاص فضیلتونه دي، د سبا راختو نه تر لـمر راختو پورې الله پاک رزق تقسیموي. (17ربیع الآخر 1436ھ. 6فروري 2015 خصوصي)

**148**.موبائل فون د رابطے آله جوړه کړېځ، دا د مزې د پاره مه استعمالوئ. نن سبا موبائل د ګناهونو آله جوړه شوې ده. (17 ربیع الآخر 1436ھ. 6 فروري 2015 خصوصي)

**149**. کله چې هم یو حدیثِ پاک بیانوئ نو په هغې کښې د خپل ځانه یو لفظ هم مه شاملوئ. (17 ربیع الآخر 1436ھ. 6 فروري 2015 خصوصي)

**150**. جذباتي انسان ښه کار ډیر ښه کوي او منفي کار ډیر بد کوي. (17 ربیع الآخر 1436ھ. 6 فروري 2015 خصوصي)

## د امیر اهلِسُنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د ملفوظاتو نه یوه مدني ګلدسته

**سوال:** د حیا دار جوړیدو نسخه ارشاد اوفرمائے؟


**جواب:** حیا په هر ګس کښې وي، په چا کښې کمه وي او په چا کښې زیاته وي. تر دې چې څوک غیر مسلمه هم وي نو په هغه کښې هم څه نا څه حیا خامخا وي، ګنې جامې به ئې ولې اغوستلے!! حیا پکښې ده ځکه خو جامې اغوندي. البته د مسلمان د حیا خپل یو شان دے. د امیرُ المُؤمنین حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د حیا به څه وائې! هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به په چاردیوارئ کښې هُم د جامو بدلولو په وخت کښې د حیا نه راټولیدلو. (مسند امام احمد، 1/160، حدیث: 543) مونږ له هم د خپلې حیا معیار چیک کول پکار دي. اوس خو بالکل شریف جوړ شوي په حیا سره ناست یو، خو موقع په موقع به زمونږه د حیا څه حال وي. په حدیثِ پاک کښې دي: حیا چې څومره هم وي ښه ده. (مسلم، ص: 46، حدیث: 157)

افسوس دا دے چې زمونږه یوه شمیره هلته حیا نه کوي چرته چې حیا پکار وي او هلته حیا کوي چرته چې حیا کول نه وي پکار. چرته چې ګناهونه کیږي هلته حیا کول پکار وي، دغه شان د بے پردګئ او بد نګاهئ په معامله کښې حیا کول پکار دي چې زما رَبّ تَعَالٰی ما وِیني، زما به څه کیږي!! د حیا د تولو نه زیات حق دا دے چې مونږه د **اللّٰہ** پاک نه حیا اوکړو، خو زمونږه حال دا دے چې مونږ د ګناه په کارونو کښې حیا نه کوو. د دې برعکس

بعضې وخت چرته چې د نیکئ کار وي هلته مَعَاذَ الله! مونږ له شرم راځي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 269/5)

د راتلونکي هفتې رساله





عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net